۱۶ جوزا ۱۳۸۱

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون

# له بشري حقونو څخه د ملاتړ او رعایت په برخه کې د پولیسو مکلفیت


**راټولونکي:**

**رحمان علي «جاوید»*، سید بها الدین «الغار»** و محمد شریف «طیبي»*****


**۱۳۹۵ ژمی**




* د بشری حقونو د تعلیماتو د څانګې همږغی کونکی

** د فاریاب ولایتی دفتر د بشری حقونو د تعیلماتو د څانګې آمر

*** د ښوونې او روزنې وزارت د تعلمي نصاب په پراختیا کې د کمیسیون استازی

**سريزه:**

د پوليسو د خدمتونو وړاندي کول هغه وخت ګټور دي چې پوليس له بشري حقونو څخه د دفاع په لمړۍ کرښه کې ودريږي، په هغه حالت کې چې پوليس پوځونه خپلې دندې د ويري او کمزوري حاکميت[1] د اتکا پر ځای، پر قانون باندي په اتکا، افتخار او مسلکي توګه سره پر مخ بوزي.[2] د قانون د پلي کوونکو له لوري له بشري حقونو څخه ملاتړ او د هغو درناوی په ټوليزه توګه او په خاصه توګه پوليس د هغوی د کار د ګتورتوب د ډيروالی سبب شوي او له بشري حقونو څخه د پوليس افسرانو دوامداره او سستيماتيک ملاتړ او په دې برخه کې مسلکي چلند ، د جرم د کچې د کمولو او د عامه نظم د پياوړتيا سبب ګرځي.

د پوليس پوځونو له لوري له بشري حقونو څخه دفاع، ملاتړ او درناوی د دې سبب کيږي چې :

۱) د پوليسو په نسبت عمومي با ور او ټولنيزه همکاري ډيره شي .۲) په محکمه کې د عدلي تقيب بهير بريالی کيږي. ۳) پوليس د ټولنې يوه برخه شميرل کيږي او خلک د هغوی د ټولنيزی ارزښناکې دندې اجراکولو ته متوجه کيږي. ۴) د عدالت د اجرا کولو د سيستم په نسبت اعتماد او باور پيا وړی کيږي . ۵) پوليس، قانون ته په درناوي کې د يوې بيلګې په توګه څرګنديږي او د هغوی کړنی او عمل کاپي او تکرار کيږي . ٦) د پوليسو په نسبت د رسنيو ، نړيوالي تولنې او لوړ پوړو چارواکو ملاتړ جلبيږي او بالاخره د شکايتونو او شخړو د سوله ييزه حل وفصل له پروسې سره مرسته کوي.

له بله پوله، له بشري حقونو څخه د پوليسو سرغړونه څو اړخيزي منفي پايلي پر ځای پريږدي او هغه د دې سبب کيږي تر څو: ۱) د پوليسو په نسبت عمومی باور لکه دار او له منځه ولاړسي. ۲) عدلي تقيب په ګتوره توګه تر سره نشي. ۳) پوليس له ټولنې څخه منزوی او ليري شي. ۴) مجرم خوشي او بې ګناه بندي شي. ۵) د جرم د قرباني رنج او زحمت بې ځوابه پاته شي ،٦) لاملونه او دولتي بنسټونه بدنام شي او بالاخره ناآراميو او ټولنيزو ناخوالو او کډوډيو ته لمن ووهل شي او وضعيت خراب کړي.[3]

پر هيوادونو لازمه ده چې د پوليسو په تشکيلاتو کې له بشري حقونو سره بلد او تحصيل موندونکي کسان په کار وګوماري او د خپلو پوځونو لپاره لازمي نظري او عملي زده کړې تر لاس لاندي ونيسي. دغه زده کړې، پوليس پوځونه له بحراني حلتونو سره په يو مناسب وضعيت کې مرسته کوي. هغه ترخه واقعيتونه چې د دنيا په کچه د هغو شاهد يو، د هغه څه ښکارندويه دي چې د هيوادوالو په نسبت د پوليسو تاوتريخوالی هنوز هم شتون لري. د دغه عيني واقعيت شتون دا ايجابوي چې په هر هيواد کې د پوليسو د تشکيلاتو مسوولين ، د خپلو پوځونو د ناوړه کړنو پر مواردو باندي د سترګو پټولو پر ځای، په مسلکي توګه عمل وکړي ترڅو هغه مامورين چې له خپل موقف

---

1 - Raw force
2 - UNITED NATIONS, New York and Geneva(2002), PROFESSIONAL TRAINING SERIES No. 5/Add.2, Human Rights and Law Enforcement, A Trainer's Guide on Human Rights for the Police, p.16-17
3- Ibid, P.16

څخه يې ناوړه ګټه پورته کړې ده تر قاوني تقيب لاندې ونيسي او د دغه ناسم ليد لوري سره چې پوليس له قانون څخه پورته دي ، چلند وکړي.

په اوسنی ليکنه کې ، په جزايي عدالت او نورو برخو کې د بشري حقونو د موازينو د رعايت په تمر کز او پاملرنې سره د عدلي او امنيتي پوليسو دندې تر بحث لاندې نيول کيږي:

**د پوليسو پيژندنه او مفهومي چارچوب:**

د پوليسو اصطلاح له حکومت يا يو سياسي پلاوي څخه د شکل په معنی، له پوليتي څخه[4] اخيستل شوې ده. په اروپا کې تر پنځلسم ميلادي قرن پورې، پوليس تر ډيره حده د ټولنيز ژوندانه له بيلا بيلو موضوعاتو لکه روغتيا او مالکيت سره تړلې وول. او جلا پوليس پوځونو شتون نه درلود. د پوليسو کار په متناوب ډول د اردو له لوري تر سره کيدی او ټولنه په عومي ډول له پوليسو څخه فاقد او بې برخې وه . له ۱۸ قرن څخه د مدرنو دولتونو په شکل نيولو سره، پوليسو ته له داخلي امنيت سره تړاو ورکړل شو او په ورستيو اوو لسيزو کې د قانون په پراختيا سره ، پوليسو هم په بيساري ډول له ټوليزه ګواښونو څخه د مخنيوي په کار کې لکه جرم، بې نظمي او مخنيوی يا له قانون څخه د سرغړونو په جبيره کولو کې په کار بوخت شول چې په ورته وخت کي د قانون له لوری هم کنترول کيدل.[5]

د پوليسو د پيژندني لپاره ، ساده يا پراخه اجماع شتون نه لري. د چارلزکال[6] له نظره د پوليسو د نويو نورمونو لمړني عناصر عبارت دی له:

۱. پوليس بايد تر نظاميانو ډير د غير نظاميانو تر څارني لاندې وي.

۲. پوليس بايد د بشري حقونو د نړيوالو معيارونو په رعايت کولوسره، ټوليزه خدمت رسونه ترلاس لاندی ونيسي.

۳. پوليس بايد متکثر او له قومی تعصب څخه فاقد خصلت ولري.[7]

په ټوليزه توګه د دې چلند پاملرنه د پوليسو د راتلونکې چلند لپاره د نورمونو د معيارونو د تر لاس لاندې نيولو په عوض، له مخکني اشتباهاتو څخه په پرهيز او ځان ژغورلو پوري اړه لري. ديويد بيلي،[8] د پوليسو تعريف او پيژندل د دوو اصولو «مسووليت منلو» او ځواب ويلو» پر بنسټ تر بحث لاندې نيسي. که څه هم هغه، د ارګانونو د جوړښت د معضلې تشريح او هغه بيلا بيل چلندونه چې کولای شي دغو ارزښتونو ته عينيت ور وبخښي، تر بحث لاندې نه نيسي ، خو استدلال يې دادی چې پوليس بايد نه يوازې د حکومت جهت نيولو ته بلکې د خلکو ښکاره امنيتي اړتياوو ته هم بايد په مستقيم ډول ځواب وواېي او د څو ګونو ارګانونو په وړاندې بايد د بيلا بيلو کانالونو له لارې د خپلو کړنو په خاطر ځواب ويوونکي و اوسي. په معنوی کچه، د دې ارمان په پوره کولو کې په ټولو د ودې په حال نظامونو کي د نظر يوالی شتون لري چې د پوليسو قدرت بايد د قانون پر بنسټ وی نه د حکمرانانو د غوښتونو او يا د پوليسو د عاملانو په توګه ، اعمال شي.

ټوله ټولني له ټوليزه نظم سره د مرستې او د جرم د کنترول لپاره د بيلګې په توګه ( د شخړو په داوری او منځګړيتوب، د ترافيکو په تنظيم او په اضطراري حالتونو کې مرسته رسولو کې) له پوليسو څخه استفاده کوي. خو هغه سازماني شرايط چې پوليس تر هغو لاندی فعاليت کوي، هغه وسايل چې له هغو څخه ګټه پورته کوي او هغه موخې چې د هغوی په لټه کې دي د پرمخ تللو او نه پرمخ تللو ټولنو په مينځ کی شتون لري. پر دموکراسي ولاړې يوې ټولني په پژندګلوي کې يو له مهمو عنا صرو څخه ، د پوليس پوځونو شتون دی چې:

۱. د يو ځانګړي سياسي کارکونکی يا واکمن ګوند د هيلو او غوښتونو تر پوره کولو ، و ارزښتونو او انساني کرامت ته د درناوي په چوکاټ کې د قانون د واکمنۍ تابع دی.

---

4 -Poli
5 - Marx, Gary, (2001), "Police and Democracy", in M. Amir and S.Einstein (eds.), Policing, Security and Democracy, Vol 2, P. 2.
6 - Charles Call
7 - Neild, Rachel, (1) "Democtatic Police reforms in War – torn Societies", in Conflict, Security and Development, P. 23
8 - David Balay

۲. يوازې په محدودو او تر دقيق کنترول لاندې شرايطو کې کولای شي چې د هيوادوالو په ژوندانه کې مداخله وکړي.

۳. د خلکو په وړاندې ځواب ويونکی دی.[9]

د افغانستان د پوليسو د قانون د دويمې مادې پر بنسټ، پوليس دا ډول تعريف شوی دی: پوليس د افسر، ساتنمن او ساتونکی څخه شامل دی چې د کورنيو چارو په وزارت کې په کار گومارل شوی او د عامه نظم او امنيت د تامين په برخه کې، د قانون د احکامو مطابق کار او فعاليت کوي.[10] د ۵۶ مې مادې[11] ، د ۷۵ مې مادې دريم بند[12] ، او د ۱۳۴ مې مادي محتواوي، د يو مدرن او پر قانون ولاړ ملي پوليس انځور ښيي.

د قانون په وړاندې برابري او فردي آزادي، د انسان ډير اساسي حقونه دي. د پوليسو د عادي او جنايي دندو ځانګړتياووې داسې دي چې تل له هغوی سره تماس او تړاو لري. د يو هيواد اساسي قانون د پوليسو د واکونو کلي حدود او د خلکو د آزاديو کلي حدود ټاکي.

له آزادۍ څخه ملاتړ د افغانستان د اساسي قانون د تاييد او پيژندني وړ دی. اساسي قانون د خلکو ځان، مال، کور او شرف له تيري څخه مصؤون گڼي او دغه حقونه د قانون د پلي کوونکو له لوري چې پوليس له قانون څخه د ساتني او حراست د ارگانونو يو له مهمې څانگې څخه دی او د خلکو د اساسي آزاديو او حقونو څخه د دفاع دنده په غاړه لري ، تامينوي. په دې اساس، پوليس پوځونه په ټولنه کې د بشري حقونو د مدافعانو په توگه پيژندل کيږي. د دغه ارگان کارکوونکي بايد د نړيوالو منل شويو معايرونو مطابق په مسلکي پوهي سمبال وي او خپلې دندې بايد په ډيره ښه توگه او په صبر او ورين تندي تر سره کړي. اوسنی څيړنه د هغه په دوام ده چې د پوليسو دندې او کلي مکلفيتونه او د خلکو له بشري حقونو څخه په ملاتړ او څارنه کې د هغوی ونډه اخيستنه تر بحث او بررسي لاندې ونيسي.

هغه څه ته په پاملرني سره چې و مو ويل، پوليس په کلي توگه د خلکو د بشري حقونو له تامين سره په ځانگړې ډول د ماشوماونو، ښځو او د ټولني د نورو زيانمنو قشرونو له حقونو سره نه شليدونکی تړاو لري. پوليس د دندې د ترسره کولو په بهير کې ممکنه ده د ښځو او ماشومانو حقونه تر صيانت او ساتني لاندې ونيسي يا هغه نقض کړي. د پوليسو ظرافت او هوښياري په دې کې ده چې په داسې ډول عمل وکړي چې د حق ملاتړ کوونکی و اوسي، نه د هغه نقض کوونکی.

## د پوليسو ډلبندي:

په کلي توگه کولای شو چې پوليس په دوو ډلو وويشو:

۱. اداري – امنيتي پوليس.

۲. عدلي- قضايي يا جنايي پوليس.

اداري پوليس په دوو (پراخه او محمدود) مفاهمو استعماليږي. د هغه وسيع يا پراخه مانا، هغه ډول څارنه او لاسوهنه ده چې دولت يې په ټولنه کې د خلکو د فعاليت او عامه نظم د ساتلو لپاره په کار وړي او د نظم په ساتلو کې د څارني او لاسوهني لار، د لوايحو او مقرراتو وضع کول، او د هغوی اجرا کول دي. د اداري پوليسو محدود مفهوم بيا ټوله هغه اقدامات دي چې د جرايمو له پيښيدو ، بې نظمۍ او اړودوړ څخه د مخنيوي په موخه تر سره کيږي. دغه ډول پوليسو ته امنيتي يا احتياطي پوليس هم وايي.

قضايي يا جنايي پوليس پرهغو حالتونو څارونکي دي چې يوه ټولنيز ضد يا جرمي اقدام صورت نيولی وي. په

9 - Marx, Gary, (2001), “Police and Democracy”, in M. Amir and S.Einstein (eds.), Policing, Security and Democracy, Vol 2, P. 1

۱۰ - د پوليسو قانون (۱۳۸۸)، رسمي جريده (۹۹۴) ، دويمه ماده .

۱۱ - د اساسي قانون له احکامو څخه پيروی، له قوانيو څخه اطاعت او دامنيت او عامه نظم تامينول دافغانستان د ټولو وگړو وجيبه ده.

۱۲ - حکومت د لاندي دندو در لودونکی دی : ... ۳. د عامه نظم او امنيت تامينول او د هر ډول اداري فساد له منځه وړل.

دې صورت کې جنايي پولیس د جرم په کشفولو او د لاملونو په راټولو او د مجرم په نیول لاس پوري کوي. کله نا کله اداري او قضايي پولیس د ګډو دندو در لودونکي دي. د بشري حقونو د تامین په برخه کې د پولیسو له رول څخه یوه عمده برخه ، د هغوی مکلفیتونو او دندو ته را ګرځي. یعنی په هغه کچه چې پولیس خپل قانوني دندې او مکلفیتونه درک کړي او په هغو عمل وکړي، په همهغه اندازه یې د بشري حقونو په تامین کې مثبت رول بازي کړی دی.[۱۳]

## د جزايي عدالت په برخه کې د پولیسو دندې او مکلفیتونه:

د عادلانه محاکماتو له اصولو څخه یوه مهمه برخه چې په نړیوالو کنوانسیونونو او د افغانستان په ملي قوانینو کې راغلي ده، او د یو هیواد د وګړو د بشري حقونو له جملې څخه شمیرل کیږي ، د پولیسو د عمده دندو جز شمیرل کیږي. له کشف څخه د شکمن تر نیولو پوري او د دې کسانو له حقونو څخه د ځینو رعایت کول د پولیسو د دندو په چوکاټ کې راځي. په دې اساس ښه ده چې د پولیسو هر یو له دغو اصولو او مکلفیتونو څخه په دغه ځای کې تشریح کړو تر څو د بشري حقونو په برخه کې د پولیسو د ارګانونو رول او مکلفیتونه روښانه شي.

## لمړی بند : له خپلسرې نیوني څخه د آزادی اصل:

دغه اصل حکم کوي چې د خلکو د آزادی محدود کول یا سلبول باید د قانون د احکامو پر بنسټ صورت ونیسي. نه دا چې د پولیسو ارګان د قانون د احکامو له پام کي نیولو پرته، له خپل موقف او موقعیت څخه په ګټې اخیستني سره ، د خلکو آزادي ( د بشري حقونو یو مهم حق) سلب کړي او د یو کس په نیولو امر وکړي.

د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې نهمه ماده تصریح کوي : « هیڅوک نشي کیدای چې په خپل سر توقیف، بندي او یا تبعید شي». د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق نهمه ماده هم حکم کوي چې : « هر څوک د شخصي امنیت او آزادی حق لري» هیڅوک نشي کیدای په خپلسر ( د جواز پرته) توقیف او یا بندي ګړي» هیڅوک نشي کیدای چې له آزادی څخه سلب شي مګر په قانون کې د وضع شویو مقرراتو مطابق». په ملي حقونو کې ، د افغانستان د اساسي قانون ۲۷ مه ماده تصریح کوي : « هیڅوک نشي کیدای چې تعقیب، توقیف او یا ونیول شي مګر د قانون د حکم پر بنسټ». د جزايي اجرااتو په قانون کې د کسانو په نیولو کې د پولیسو د ارګان صلاحیت محدود شوی دی. د جزايي اجرااتو د قانون په۸۱ مه ماده کې راغلي دي : عدلي پولیس کولای شي چې په خپل صلاحیت یو کس په لاندې حالتونو ونیسي:

- د جنایت یا جنحې د جرم د واقع کیدو په صورت کې چې د هغه جزا منځنی حبس وي.
- هغه کس چې د جنایت د جرم د مرتکب په حیث قلمداد یا تورن شوی وي او د هغه د ورکیدو یا پټیدو امکان متصوره وي.
- په نورو حالتونو کې ، د عدلي پولیسو له لوري نیول د با صلاحیته عدلي او قضايي چارواکو د هدایت په اساس صورت نیسي.

غیر قانوني توقیف او نیونه د جزا د قانون د ۱۱۴ مې مادې مطابق جرم دی:

« یو کس چې له قانوني مصرحه احوال یا د ذیصلاح چارواکو له امر پرته ، یو بل کس توقیف او ونیسي او یا یې له کار څخه منع کړي ، له احوال سره سم په منځني حبس محکومیږي» . سر بیره پردې که چیري یو کس په داسي حال کې چې پوځي جامې یې پرته له دې چې پوځي کارکونکی وي ، واغوندي او یا داسي و ښیي چې دولتي کار کونکی دی او یو کس په غیر قانوني ډول ونیسي او بندي یې کړي، د افغانستان د جزا د قانون د ۴۱۵ مې مادې مطابق، په اوږده بند چې لږ تر لږه له لسو کلنو څخه کم نه وي، محکومیږي.

---

۱۳- علامه غلام حیدر، د افغانستان د جزايي محاکماتو اصول، چ۱، کابل: د ابن سینا د پوهنتون خپروني، ۱۳۹۴ کال، ۶۵-۶۶ او ۷۱-۷۲ مخونه.

**دویم بند: د تور یا اتهام د پوهولو اصل :**

د پولیسو له نورو مکلفیتونو څخه یو هم دادی چې د یو تورن کس د بشري حقونو په تامین کې لویه ونډه لري، پولیس د نیولو په وخت کې مکلف دي چې نیول شوی کس له علت او موضوع څخه خبر کړي (د اساسي قانون ۱۱ مه ماده، د پولیسو د قانون ۱۵ مه ماده او د جزایي اجرااتو د قانون ۷ مه او ۸ مه ماده ). د تحقیق په بهیر کې باید شکمن کس له خپلو ټولو حقونو څخه باخبره کړي تر څو شکمن و پوهیزي چې د محاکمې په بهیر کې له کومو حقونو څخه برخمن دی او څه دول کولای شي خپله بې ګناهي ثابته کړي . په دې برخه کې د جزایي اجرااتو د قانون اومه ماده داسي تصریح کوي:

« د عدلي تعقیب په پړاونو کې شکمن، تورن او د حق العبد مسوول د لاندي حقونو در لودونکی دی: ۱- پر هغه باندی په وارد شوی تور او د وارد شوي تور د وضاحت په تر لاسه کولو او د قضیې په اجرااتو با ندی پوهیدل. ۲- له خپلسري نیولو یا توقیف څخه مصوونیت او د دې قانون د احکام مطابق د وارد شوی تاوان جبیره کول. ۳- له هر ډول غیر انساني چلند، بدني ، رواني تعذیب ، تحقیر او توهین څخه مصوونیت. ۴- د نیول کیدونکی ارګان له لوري د نیول کیدو په وخت کې د هغه خپلوانو او یا کورنۍ ته د خبر ور کول.

۵- په آزادانه ډول د دلایلو وړاندي کول او د مطالبو څرګندول.٦ـ له شاهد څخه د اسنادو ، مدارکو او شواهدو د وړاندي کولو څخه د جواب غوښتل چې د ده په هکله یي شهادت ور کړی دی او د هغه شا هد د شهادت اوریدل او حاضرول چې د ده په ګټه شهادت ورکوي . ۷- د سکوت له حق څخه ګټه پورته کول او له هر ډول څرګندونو څخه امتناع کول. ۸- د قانون د احکامو پر بنسټ د مدافع وکیل ټاکل او یا د حقوقي مرسته کونکي درلودل. ۹- د ضبط شویو شیانو او مدارکو په هکله د نظر څرګندول. ۱۰- د ژباړن یا ترجمان درلودل، ۱۱- په دوسیه کې د درج شویو پاڼو و کاپۍ ته لاسرسي.

۱۲- د محکمې، څارنوالۍ، اهل خبره کسانو او د قضایي د ضبط د مامور پراجرااتو باندي اعتراض کول. ۱۳- د غونډې غوښتنه کول..... » . د جزایي اجرااتو د قانون اتمي مادې، د پولیسو له لوري له دې حقونو څخه د خبر ور کولو د مکلفیت په باب کې داسي حکم کړی دی: « پولیس د نیولو په بهیر کې ، څارنوال د تحقیق له پیل څخه مخکي او قاضي له محاکمې څخه مخکي مکلف دي ، چې د دې قانون په اومه ماده کې درج شوي حقونه شکمن او تورن کس ته او یا د هغه و قانوني استازي ته توضیح کړي او موضوع په محضر کې درج، لاسلیک او د هغه د ګوتي نښه واخلي».

**دریم بند: د اشخاصو د څارني موارد:**

یو له نورو اصولو څخه چې د پولیسو پر دندو باندي حاکم دی، تر څارني لاندي د نیولو بحث دی. پولیس یوازي په هغو مواردو کې چې قانون مشخص کړي دي ، واک او صلاحیت لري چې شخص ونیسي. په قانون کې له مصرحه مواردو څخه به غیر، تر څارني لاندي هر ډول نیول د هیوادوالو د آزادی خلاف او د قانون نقض دی. د پولیسو د قانون پنځلسمه ماده تصریح کوي : « پولیس کولای شي په لاندي حالتونو کې شخص تر څارني لاندي ونیسي.

- په هغه صورت کې چې د یو کس ژوند او یا سلامتیا په خطر کې وي او په بل ډول یي ملاتړ و نشي کړای، په دې صورت کې پولیس مکلف دی ، د دغې مادې په درج شوي وخت کې په هغه اقدام لاس پوري کړي چې نوموړی خطر حتی المقدور رفع کړل شي.
- په هغه صورت کې چې د شخص د هویت تثبیتول په بله طریقه ممکن نه وي.
- په هغه صورت کې چې شخص د ځانمرګي یا انتحار قصد ولري. په دغه صورت کې پولیس مکلف دی د دې مادې په درج شوي وخت کې شخص د سیمي و ډیر نژدې روغتون ته ولیږدوي.

- په نورو هغو حالتونو کې چې قانون حکم کړی وي.
- په پورته حالتونو کې د څارنې د دوام موده له ۷۲ ساعتونو څخه ډیره نشي کیدای» .

### څلورم بند: په قانوني موده کې دوسیې ته رسیدنه:

د تورنانو/ متهمینو په برخه کې د پولیس ارګانونو یوه بله دنده د شکمن کس دوسیې ته په وخت او زمان رسیدنه ده او د شکمن یا مظنون قضیې ته په رسیدنه کې نباید ځنډ راشي. د جزایي اجرااتو د قانون د ۸۰ یمې مادې دریم بند، تصریح کوي چې باید په ۲۴ ساعتونو کې د کشف شوی جرم په هکله څارنوالۍ ته خبر ور کړل شي او د جزایي اجرااتو د قانون ۸۷ یمې مادې داسې حکم کړی دی: « پولیس مکلف دی چې حداکثر د شکمن تر نیولو ۷۲ ساعته وروسته ، له پاڼو ، سندونو او را غونډ شویو دلایلو سره د اجرااتو محضرڅارنوالۍ ته وړاندې کړي او مظنون هم اړوندې څارنوالۍ ته د تحقیق لپاره واستوي.

د پولیسو قانون هم په دې برخه کې خپل موقف څرګند کړې او د پولیسو د قانون ۲۵ مه ماده داسې حکم کوي : « پولیس کولای شي د جرم او مجرم د هر اړخیزه کشف په هکله ، نیول شوی شکمن کس تر۷۲ ساعتونو پورې ترنظارت لاندې ونیسي». دغه ماده ښیي چې له یو اړخه نباید له ۷۲ ساعتونو څخه ډیر تر څارنې یا نظارت لاندې ونیول شي او له بله اړخه ، باید په ۷۲ ساعتونو کې د هغه دوسیې ته رسیدنه وشي او هغه څارنوالۍ ته ولیږي.

### پنځم بند : د شکنجې په وړاندې د ساتنې اصل:

شکنجه یو له غیرانساني کړنو او د انساني کرامت مخالفه ده چې هم په ملي حقونو او هم په نړیوالو حقونو کې منع شوې ده او د عدالت د نړیوالې محکمې د مشورتي رای پر اساس، د عامو او نړیوالو الزامي حقونو د قواعدو له جملې څخه ده. یعنی حتی هغه هیوادونه چې د شکنجې د منع کولو د معاهدې غړي نه دي هم د هغې د نقض حق نه لري. د شکنجې د منع کولو د کنوانسیون د لمړۍ مادې مطابق یې، د شکنجې غیر انساني ، ظالمانه مجازات او کړنې دا ډول تعریف کړې دي:

« هر ډول عمدي کړنه چې له یو کس څخه د معلوماتو د لاسته راوړلو او یا له هغه او یا دریم کس څخه د اقرار اخیستلو په موخه د سخت جسمي یا رواني درد او رنج سبب کیږي، شکنجه بلل کیږي. همدارنګه فردي مجازات د هغه عمل په توګه چې هغه او یا دریم کس تر سره کړی دی، او یا ښایي چې تر سره یې کړي ، په تهدید او جبر سره او د هر ډول تبعیض پر بنسټ، او د دغه درد او رنج د واردولو په وخت کې او یا په هڅولو او یا د دولتي مامور یا هر بل مقام په خوښه او د مخالفت په نشتوالی سره، تر سره شي. شکنجه بلل کیږي. هغه درد او رنج چې په ذاتي او یا طبیعي توګه د قانوني مجازاتو لازمه دي، ( په دغه کنوانسیون کې) نه شاملیږي.

د دې کنوانسیون دویمه ماده د دولتونو د مکلفیتونو په باب کې تصریح کوي: « هر غړی دولت به هغه وخت مراقب او مطمئنه شي چې تر جنایي قوانینو لاندې د شکنجې ټول ډولونه جرم و ګڼل شي او د هغه کس لپاره چې به شکنجه لاس پورې کوي ، او یا هغه کس چې د دغه عمل په ترسره کولو کې له هغه سره مرسته کوي ، مجرم و پیژندل شي». د افغانستان د بشري حقونو ژمنې ته په پام سره ، د اساسي قانون ۲۹ مه ماده تصریح کوي : « د انسان تهذیب منع دی. هیڅوک نشي کیدای حتی د حقایقو د کشف په مقصد له بل کس څخه که څه هم تر تعقیب، نیولو یا توقیف لاندې وي او یا په سزا محکوم وي، د هغه په تهذیب لاس پوري کړي یا امر ور کړي. هیڅ دولتي کار کونکی نشي کولای ، هیڅ یو شخص تر شکنجې لاندې ونیسي.

د اساسي قانون د دغه حکم په تناسب، د افغانستان د جزا قانون شکنجه جرم ګڼلې ده او د هغې مرتکبین مجازات کیږي. د افغانستان د جزا د قانون ۲۷۵مه ماده تصریح کوي : « هر کله چې د عامه خدمتونو موظف کس ، تورن کس د اعتراف اخیستلو په مقصد شکنجه کړي او یا په هغې باندې امر و کړي په اوږده بند محکومیږي.

که چیري تورن کس د شکنجي په وخت کې ووژل شي مرتکب په دغه قانون کې د عمدي قتل په بیشبیني شوي جزا محکومیږي ».

پر پور ته حکم سر بیره ، د افغانستان د قوانینو پر بنسټ هر هغه اعتراف چې په زور او جبر سره اخیستل شوي وي ، قانوني اعتبار نه لري او د حکم په صادرولو کې نشي کیدای پر هغه استناد او تکیه وشي . د اساسي قانون ۳۰ مې مادې تصریح کړې ده: « هغه اظهار، اقرار او شهادت چې له تورن او یا بل کس څخه په زور او اکراه سره په لاس را وړل شي، اعتبار نه لري. په جرم باندي اقرار عبارت دی: د با صلاحیه محکمې په وړاندي په کامل رضایت او د سالم عقل په حالت کې د تورن کس اعتراف کول دی».

په قانون کې د جرم د اثبات لپاره ګڼ شمیر مدارک او وسایل پیشبیني شوي دي چې د متهم له اعتراف او اقرار څخه پورته او معتبره دي. په دې اساس اړتیا نشته چې د داسي وسایلو په شتون سره بیا هم پر متهم باندي د جرم د اثبات په منظور په شکنجه لاس پوري کړل شي. د افغانستان د جزایي اجرااتو د قانون ۱۹ مې مادې د جرم د اثبات د وسایلو په پیژندګلوی کي داسي تصریح کړي دي : « د جرم د اثبات دلایل عبارت دي له : ۱- د متهم اقرار، ۲ـ د شهود یا شاهد شهادت، ۳ـ سندونه. ۴ـ په صف کې په بالمواجهه توګه د مظنون پیژندل. ۵ـ قراین. : په تخصصي معایناتو کې د اهمیت د درجې په رعایت سره دغه لاندي مدارک د مادي ادله په توګه ګڼل کیږي:

ږغیز او تصویري کسیټونه، تصویري مراقبت یا نورمدارک یا هغه اطلاعات چې د کشفي پټو اقداماتو له لاري په لاس راغلي وي. د لاس د ګوتو، د لاس د ورغوي، او پښو نښې او علایم، پر ګولۍ او خول یا پوچک (کارتوس) باندی بالستیکي آثار او نښې د فلزي وسایلو او د سونګ د نورو موادو آثار او نښې . د ښیښو پارچې، د ویني نښې. د بوټونو نښې . د لیکلو نښې، د غاښونو نښې او علایم، د ویښتانو علایم، پریښنایي، کیمیاوي او بیولوژیکي نښې او نښاني. د ناریه او جارحه وسولو او چاودیدونکو توکو نښې، د نقلیه وسایطو نښې ، د اوبلنو موادو ، منسوجاتو، تیزابونو، او مالګو نښې . او نور هغه مواد او نښې چې د آګاه خلکو او علماوو په نظر ثابت شوي وي او د جرم په تثبیت او د مرتکب په پیژندګلوي کي ګټورې وي».

د اقرار او شهادت په څنګ کې د دغو دلیلونو پیژندګلوي، په حقیقت کې د دوو امرونو لپاره اساس دي. لمړی امر دا چې د جرم د ثبوت دنده په نومړو چارواکو له هغي جملې په پولیسو پوري اړه لري او نباید تورن یا شکمن کس و اقرار کولو ته اړ ایستل شي. بل امر دا دی چې د اثبات ګڼ شمیر وسایل عملاً د پولیسو او نورو قضایي چارواکو په واک کې ورکړل شي ترڅوهغوی ډیر لږ په اقرار اخیستلو لاس پوري کړي. له بل پلوه تجربیو ثابته کړې ده چې اقرار د جرم د اثبات لپاره یوه با اعتباره او مناسبه وسیله نه ګڼل کیږي. ځکه زیاتره وختونه داسي هم واقع شوي ده چې یو کس د بل کس په عوض د محکمې په حضور کي د جرم په ارتکاب باندي اقرار کړی دی ، پلارني مینه او محبت د دې سبب شوی دی چې پلار د واقعي مجرم (زوی) پرځای اقرار وکړي . په دې اساس په حقوقي لحاظ هم د نن ورځې اقرار چنداني اعتبار نه لري . په دې ترتیب کولای شو نتیجه تر لاسه کړو چې نباید په شکنجه لاس پوري کړل شي ځکه چې:

- ✓ د شکنجې عمل جرم دی او د هغې مرتکب د قانون په موجب مجازات کیږي.
- ✓ هغه اعتراف چې د شکنجي په پایله کې په لاس راځي، اعتبار نه لري او د محکمې د حکم د صادرلو اساس نه شمیرل کیږي.
- ✓ نن ورځ قانوني اقرار هم ، له اثباتیه مدارکو او وسایلو پرته د باور وړ نه شمیرل کیږي.
- ✓ د جرم د اثبات وسایل او مدارک ډیر دي او باید له هغو قانوني وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره، د یو متهم کس د جرم د اثبات په لټه کې و اوسو او یوازي پر اقرار باندي تکیه او استناد ونه کړو.

تیرو بحثونو ته په پاملرنې سره باید ووایو چې د شکنجې په برخه کې د پولیسو اساسي دنده دوه اساسي امرونه دي. لمړی امر دا چې خپله په هغه لاس پوري نه کړي او دویم امر دا چې بل څوک په هغه لاس پوري کړي ، په

دې صورت کې د هغه په وړاندې د قانون د اجرا کولو لپاره مبارزه وکړي او نقض کوونکی شخص د قانون منګولو ته و سپاري.

## شپږم بند: د سکوت د حق رعایت:

د سکوت حق د شکمن او تورن کس یو له مسلمو حقونو څخه دی چې له هغه څخه د نیولو له پیله د محاکمې تر وروستي پړاو پورې برخمن و اوسي. سکوت یا چوپ پاته کیدل، د دې لپاره مهم ضمانت دی چې یو متهم اړ نشي او یا فریب و نه خوري چې پر خپل ځان باندې شهادت ور کړي او یا پر خپل مجرم کیدو باندې اعتراف وکړي. له یاده ونه باسو چې په دې ځای کې چوپ پاته کیدل د متهم د رضایت علامه نه ده ، بلکې د متهم حق دی . په دې هکله د افغانستان د جزایي اجرااتو د قانون ۱۵۰ مه ماده داسې تصریح کوي: «۱ـ متهم کولای شي د هغې پوښتنې په وړاندې چې له ده څخه صورت نیسي، چوپ پاته شي. د سکوت او امتناع موضوع په محضر کې درج کیږي . ۲ـ په حکم کې د متهم سکوت د هغه بیان نه دی. ۳ـ هغه اظهار، اقرار او شهادت چې له تورن یا شاهد څخه د زور، ګواښ، ویرلو، تطمیع او یا اکرا په وسیله تر لاسه شوی وي، اعتبار نه لري» د سیاسي او مدني حقونو د میثاق نهمې او څلورلسمې مادې هم دغه حق پیژندلی دی.

## اووم بند: د برائت‌الذمه د اصل رعایت:

د برائت‌الذمه اصل په دې معنی دی چې دا د تورن او شکمن کس پر بې ګناهۍ باندې اصل دی او تر هغه وخت پورې چې د باصلاحیته یا قطعي محکمې په حکم سره محکوم علیه نه وي پیژندل شوی، بې ګناه شمیرل کیږي . د برائت‌الذمه اصل ایجابوي چې لاندې موارد رعایت شي چې د بولیسو په دندو پورې اړه لري:

- ✓ نباید څوک د قانوني موازینو له پام کې نیولو پرته ونیول شي او یا تر توقیف لاندې ونیول شي.
- ✓ د با صلاحیته محکمې د حکم له قاطعیت مخکې د متهمینو او منظنونینو په هکله له قضاوت څخه پرهیز وشي.
- ✓ د شکمنو او تورنو له تشهیر او رسوا کولو څخه لیرې والی وشي او نباید د تورن او شکمن کس هویت او د قضیو حقایق، معلومات او سندونه رسنیو او مطبوعاتو ته ور کړل شي. ( د حکم خپرول د جزا د قانون د ۱۱۷ مې مادې په موجب یو له تکمیلي جزا ګانو څخه دی).

د بشري حقونو په نړیواله اعلامیه، نړیوالو میثاقونو او د افغانستان په داخلي قوانینو کې د برائت‌الذمې اصل تضمین شوی دی. د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې ۱۱مه ماده: « ۱ـ هر څوک چې په جرم متهم شوي وي، بې ګناه به وګڼل شي ترهغه وخته پورې چې د یوې عمومي دعوای په بهیر کې چې په هغه کې د هغه د دفاع لپاره ټولو لازم تضمینونه تامین شوي وي او د هغه جرم قانوناً په ثبوت ورسیږي. ۲ـ هیڅوک د یو عمل د ترسره کولو او یا نه تر سره کولو لپاره چې د ملي او نړیوالو حقونو په موجب د هغه عمل د ارتکاب په وخت کې جرم و نه پیژندل شي ، محکوم به نشي. په همدې ډول له هغه څه څخه ، هیڅ ډول سختې سزا ګانې چې د جرم د ارتکاب په وخت کې یې په هغه پورې اړه پیدا کوله، د هیچا په باره کې به اعمال او ترسره نشي » . د سیاسي او مدني حقونو د میثاق د څلورلسمې مادې دویم بند هم تصریح کوي:

« هرهغه څوک چې د جرم په ارتکاب متهم شوی وي، حق لري بې ګناه وګڼل شي تر هغه چې د قانون مطابق د هغه مقصر والی څرګند شي ». د دې دوو مادو په تناسب ، د اساسي قانون ۲۵ مه ماده داسې حکم کوي : برائت‌الذمه اصلی حالت دی. متهم تر هغه وخته چې د باصلاحیته محکمې په قطعي حکم محکوم علیه ونه ګڼل شي، بې ګناه پیژندل کیږي». د جزا د قانون د څلورمې مادې لمړی بند او د جزایي اجرااتو د قانون پنځمه ماده هم ورته حکم کوي.

## اتم بند : د قانون په وړاندي د ټولو د برابرۍ اصل:

د قانون په وړاندي د ټولو د برابرۍ اصل او له ټولو هیوادوالو سره د قانون برابرچلند د عدالت او د قانون د واکمنۍ یو له اساساتو څخه دی. د قانون په وړاندي د ټولو د برابروالي اصل ایجابوي چې هیڅوک نباید د جنسي، مذهبي، سیمه ییزو، عقیدوي، سیاسي...... اړیکو په خاطر له خپلو قانوني حقونو څخه بې برخي شي. یوې قضیې ته د رسیدني په ټولو پړاونو کې تبعیض او امتیاز منع دی. د تورنانو او شکمنو د محاکمې په بهیر کې باید دغه اصل رعایت شي. یعني پولیس او نور عدلي او قضایي ارگانونه نباید د یو شخص په وړاندي له توپیره ډک چلند وکړي او یا یو کس او ځانگړو کسانو ته ډیر امتیاز ور کړي.

دغه اصل د افغانستان په داخلي قوانینو او د بشري حقونو په نړیوالو سندونو کې تضمین شوی دی. د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې دویمي مادې د تبعیض د منع کولو دکترین داسي معرفي کړي دي : « هرڅوک کولای شي چې له هیڅ ډول توپیر پرته په ځانگړي ډول د نژاد، رنگ، جنس، ژبې، سیاسي عقیدې، او یا هري بلي عقیدې او همدارنگه د ملیت، ټولنیز وضعیت، ثروت، زوکړي او یا له هر بل موقعیت پرته له ټولو حقونو او ټولو هغو آزادیو څخه چې په اوسنی اعلامیه کې ذکر شوي دي ، گټمن شي. سربیره پردې هیڅ تبعیض به عملي نشي چې د سیاسي ، اداري، قضایي یا د هیواد نړیوال موقعیت او یا هغه ځای وي چې شخص په هغه پورې تړاو لري. که څه هم دا هیواد مستقل یا د چا تر قومومیت لاندي او یا غیر خود مختار وي او یا د هغه حاکمیت په یو ډول محدود شوی وي».

د سیاسي او مدني حقونو د نړیوال میثاق ۲۶ مه ماده د اعلامیې په تناسب د دې اصل په باب کې بیان کړي دي: « د قانون په وړاندي ټول خلک برابر دي او له هر ډول تبعیض پرته د قانون د بالسویه ملاتړ استحقاق لري. په دې لحاظ قانون باید هر ډول تبعیض منع او د ټولو خلکو لپاره د هر ډول تبعیض په وړاندي په ځانگړي ډول د نژاد، رنگ، جنس، ژبې ، مذهب، سیاسي عقیدې او یا نورو عقایدو ، ټولنیز یا ملي منشا د اصل، مکنت، نسب، یا د بل هر وضعیت وړاندي برابر او اغیزمن ملاتړ تضمین کړي».

اساسي قانون هم په ۲۲مه ماده کې دغه اصل د پام وړ گرځولی او په صراحت سره حکم کوي: « د افغانستان د وگړو تر مینځ تبعیض منع دی. د افغانستان وکړي نر او ښځي د قانون په وړاندي د برابرو حقونو او وجایبو در لودونکي دي.

هغه عمده لاملونه چې د دغه اصل د نقض سبب کیږي، عبارت دي له:

✓ یو له هغو لاملونو څخه چې د دغه اصل د نقض سبب کیږي د پولیسو د ار گان نه خپلواکي ده.

✓ اداري فساد د قانون په وړاندي د ټولو د برابرۍ د اصل د نقض بل لامل دی. په عامه معنی اداري فساد له موقف او امکاناتو څخه د ناوړه استفاده کولو په معنی دی. اداري فساد سبب کیږي چې د پولیسو ارگان په خپلو اجرااتو کې، قانون یو ډول پلی نه کړي.

✓ سربیره پردې تعصبونه او ناپوهي د تبعیض یوه بله اساسي منشا ده . د ناپوهي باطل څرخ، تعصب، تبعیض ، تاوتریخوالی او ..... به تل تکرارشي. هغه خلک چې د عزت او انساني شرف په نسبت علم او ژمنه لري . د انسانانو ترمینځ به تبعیض را منځته نه کړي او د خدای تعالی بندگان به په ښه او بد، خودی او غیر خودي و نه ویشي.

## نهم بند: د مدافع وکیل د درلودلو حق:

د مدافع وکیل د لرلو حق د تورن او شکمن کس یو له مسلمو حقونو څخه دی. څنگه چې پوهیږو په یوه جزایي دعوای کې په یوه اړخ کې څارنوال قرار لري چې د دولت او ټولو خلکو په استازیتوب د مدعی رول بازي کوي او هغه څوک دی چې د قانون له احکامو څخه په تخصصي ډول باخبره دی. او د هغه په وړاندي هغه متهم او مظنون قرار لري چې ښایي یو نا لوستی کس او له قانون څخه بې خبره وي . په دې ځای کي توازن شتون نه لري او

عدالت ایجابوي چې د متهم یا مظنون په بغل کې یو حقوقي مرستندویه وجود ولري تر څو له متهم او منظنون سره د هغه د حق په دفاع کې مرسته وکړي . سربیره پردې ، څارنوال د اتهام د ثبوت لپاره د پولیسو، څارنوالي او د دولتي ارگانونو له امکاناتو او سرچینو څخه استفاده کوي ، په داسي حال کې چې مظنون او متهم خالي لاس کسان دي. د توازن د منځته راتلو او منصفانه رسیدني لپاره ایجابوي چې مظنون کس د یو حقوقدان او په قانوني مسایلو د پوه کس له ملاتړ څخه برخمن شي او له خپلو قانوني حقونو څخه دفاع وکړي.

د افغانستان داخلي قوانینو او نړیوالو میثاقونو د مدافع وکیل د لرلو حق په رسمیت پیژندلی دی. د اساسي قانون ۳۱ ماده تصریح کوي: « هر څوک کولای شي د اتهام د رفع کولو لپاره محضي د نیولو او یا د خپل حق د ثبوت په خاطر ، مدافع وکیل وټاکي. دولت په جنایي قضیو کې د بې بضاعته متهم لپاره مدافع وکیل ټاکي. د وکیل او د متهم ترمنځ د خبرو ، مراسلاتو او مخابراتو محرمیت، له هر ډول تعرض څخه مصوون دی. مدافع وکیل له متهم او مظنون سره حق لري د استنطاق او محاکمي د ټولو پړاونو په بهیر کې حضور ولري.

په دې هکله د جزایي اجرااتو د قانون ۱۵۲مه ماده داسي صراحت لري : « څارنوال له متهم څخه غواړي چې د تحقیق له پیل نه مخکي مدافع وکیل له ځان سره ولري . که چیري متهم د مدافع له نیولو څخه ډډه وکړي په محضر کې د هغه لاسلیک درج او اخیستل کیږي. که چیري د مدافع وکیل په نیولو کې خپله مالي ناتوایي څرگنده کړي، د قانون د احکامو او مقررې مطابق د حقوقي مرستو و اړونده اداري ته معرفي کیږي . د جنحې په جرم کې د مدافع وکیل نه معرفي کول یا د هغه له نیولو څخه ډډه کول نباید د تحقیق د اجرااتو او د دلایلو د ضایع کیدو مانع و گرځي. د جناحت په جرم کې څارنوال مکلف دی چې یو کس مدافع وکیل د متهم په لگښت معرفي کړي او که چیري د هغه بې بضاعتي ثابته شي، د مقررې د احکامو مطابق د حقوقي مرستو د اداري له لوري د هغه لپاره مدافع وکیل ټاکل کیږي ».

له هغه ځایه چې پولیس لمړنی ارگان دی چې تورن یا شکمن کس په خپل اختیار کي نیسي ، بناً لازمه ده چې دغه حق ذکر کړي تر څو متهم او مظنون، قضیې ته د رسیدلو په وخت د مدا فع وکیل له ملاتړ څخه برخمن شي. د مدافع وکیل ټاکل یوازي د متهم او مظنون په گټه نه دی بلکې د عدالت او انصاف د پلي کیدو په دلیل د ټولني په گټه هم دی. په هغه ټولنه کې چې عدالت او انصاف نه رعایت کیږي ، د بشري حقونو او انساني کرامت رعایت به بې مفهومه او بې معنی وي او په هغه ټولنه کې چې بشري حقونه او انساني کرامت نه رعایت کیږي، ځنگله ته به ورته وي او نشي کولای یو عزتمند او انساني ژوندانه ته هیله مند و اوسي».

### د پولیسو امنیتي مکلفیتونه:

پورته د جزایي عدالت په برخه کي د پولیسو مکلفیتونه مطرح شول چې اصولاً د دغو اصولو رعایت او قانوني او اخلاقي مکلفیتونه ، د بشري حقونو په تامین کې لویه ونډه لري . دغه خبره د هغه څخه په لټه کې ده چې د پولیسو نور مکلفیتونه تر ارزوني لاندي ونیول شي کوم چې د بشري حقونو د یوې تولني په منځته راتلو کې اساسي رول لري. دغه خبره په دغې پوښتنې سره پیل کوو چې: په ټولنه کې د پولیسو دندې او مکلیفتونه څخه شی دي؟

د افغانستان د تقنیني قوانینو سندونو ته په پام سره ، پولیس د لاندي دندو په سرته رسولو مکلف دي:

- د عامه نظم او امنیت تامینول.
- د اجتماع او فرد د امنیت تامینول او د هغوی د حقونو او قانوني آزادیو څخه ساتنه .
- د جرمونو له پیښیدو څخه د مخنیوي په برخه کې د و قایوي تدبیرونو نیول.
- د قانون د احکامو مطابق په وخت او زمان د جرایمو کشفول او د مظنونیو او مرتکبینو نیول.
- د اخلاقي انحرافاتو، ټولنیزو فسادونو او هغه کړني چې ټولیزه هوساینه اخلالوي مبارزه کول.

- د دولتي او خصوصي موسسو، او داخلي او نړیوالو سازمانونو له شتمنیو او ملکیتونو څخه ساتنه کول.
- د کوکنارو او بنګو د کرلو، د مخدره توکو د غیر مجاز کارولو، ترافیک ، تولید او قاچاقو په ضد مبارزه کول او همدارنګه د نشه کوونکو توکو د استعمال او تورید څخه مخنیوی کول.
- د منظمو او سستیماتیکو جرایمو ، فساد او اړو دوړ سره مبارزه کول.
- د قانون د احکامو مطابق له نورو امنیتي ارګانونو سره په ګډه د اقتصادي جرمونو او تروریزم پر ضد مبارزه کول.
- د وسلی او مخدره توکو له قاچاقو، او همدارنګه د انسان تښتونې او د اسنان له قاچاقو سره مبارزه کول.
- د قانون د احکامو مطابق ، د صلاحیت په حدودو کې له دولتي ادارو سره د هغوی د دندو په پرمخ بیولو کې مرسته کول.
- د قانون د احکامو مطابق د ترافیکي چارو تنظیمول.
- له نورو دولتي ارګانونو سره په همکارۍ کې له پیښو او غیر متراقبه حالاتو سره د مبارزې لپاره د لازمو اقداماتو او تدبیرونو نیول.
- له اشخاصو او د هغوی له مالونو څخه د ساتنی او نجات په موخه د طبیعي پیښو او غیرمتراقبه حوادثو له زیانمنونکو سره لازمې مرستي کول.
- د قانون د احکامو مطابق د عامه نظم او امنیت په موخه په اضطراري حالتونو کې د لازمو اقداماتو او تدبیرونو نیول.
- په وقایوي او مجادلوي فعالیتونو کې د ټولیزې همکارۍ جلبول.
- د دفاع له وزارت سره په همږغۍ کې په پولو کې د ملي واکمنې د مغایرو تحرکاتو د پیښیدو پر وخت د ضروري او مناسب اقدام کول او له پولو څخه ساتنه او تحکیمول.
- د قانون د احکامو مطابق د هیواد په نړیوالو ډ ګرونو او پولو کې د خلکو له ننوتلو او خارجیدلو څخه کنترول کول.

**پولیس د قانون له مخې د قضایي د ضبط د مامور په توګه لاندي دندې په غاړه لري:**

- د جرمونو کشفول او د هغوی له پیښیدو څخه مخنیوی کول.
- د جرمي مدارکو، شواهدو او دلایلو ساتل.
- د قانون له مخي د مرتکبینو او مظنونیو نیول او د هغوی له تیښتي او پټیدو څخه مخنیوی کول.
- د دندو تر سره کول په هغه ډول چې د پیژندګلوي ، کشف، او د جرمونو د مسلکي موندني سبب شي.
- پولیس د قانون مطابق د جرمونو په څیړنو کې له څارنوال او نورو عدلي ادارو سره د جزایي اجرااتو او د هیواد د نورو نافذه قوانینو په برخه کې مرسته کوي.
- پولیس له څارنوال سره په همږغي کې خپل اړونده فعالیتونه د جرمي شبکو په پیژندګلوي، فساد او له مخدره توکو سره د مبارزې په موخه تر سره کوي.
- له سرحدي ترافیکو څخه څارنه او مراقبت او د هغو د سندونو کنټرولول.
- د نړیوالو تړونونو، نړیوالو حقونو او د انټرپول (نړیوال پولیس) د قواعدو په پام کې نیولو سره د بهرنیو هیوادونو له پولیسو سره د دوامداره اړیکو ټینګول.
- د قانون له مخي له حقیقي، او حکمي اشخاصو او غیر مسولو ډلو څخه د وسلو ، مهماتو، او چاودیدونکو توکو

را ټولول، او د ناریه وسلې د لیږد د جواز صادرول او د هغو له کارولو څخه څارنه کول.

- د غونډو، اعتصابونو او قانوني مظاهرو لپاره د امنیت تامینول او له بې نظمیو او اړودوړ سره مقابله او مبارزه کول.
- د اورلګیدني له پیښیدو څخه مخنیوی او وقایه او د هغه خاموشه کول.
- په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت د قانون او د پاسپورت د قانون د حکمونو تطبیقول تر هغه ځایه چې د پولیسو د دندو د صلاحیت په چوکاټ کې قرار لري.
- دولتي ارګانونه او رسمي مسوولین مکلف دي چې له پولیسو سره د جرایمو په وړاندې مبارزه او د عامه نظم د ساتلو په موخه د هغوی د قانوني مکلفیتونو په تر سره رسولو کې مرسته وکړي.

څنګه چې لیدل کیږي، د پولیسو دغه دندې او مکلفیتونه له دغه ارګان څخه د قانون د واکمنۍ یو قوي او پیاوړي بازو جوړوي چې د دغو دندو د تر سره کولو ثمره به نظم، امنیت ، آرامتیا او له هوساینې څخه پرته بل څه نه وي. که چیري پولیس په خپلو قانوني او اصلي ژمنو باندې څنګه چې لازمه ده عمل و کړي ، له یو اړخه پخپله د بشري حقونو د اصولو پلي کونکي دي او له بله اړخه ، په ټولنه کې د بشري حقونو د ارزښتونو عملي کوونکي او څارونکي دي. په هره اندازه چې دغه ارګان پیاوړی شي، د بشري حقونو وضعیت ښه والی مومي، ټولنه به د خپل پرمختګ او پیشرفت مسیر طی کړي او بر عکس که دغه ارګان کمزوری او ناتوانه شي او پولیس په خپلو مقدسو او سپیڅلو دندو عمل ونه کړي په همهغه اندازه به د بشري حقونو نقض ممکن شي.

### د پولیسو له لوري د قوانینو د نه رعایت کولو پایلې :

### لمړی بند : د قانون د رعایت کولو مکلفیت:

هغه لمړنی ضمانت چې په دې برخه کې مطرح شوی دی دا دی چې پولیس مکلف شوی چې د قوانینو مطابق خپل اجرات تر سره کړي. د جزایي اجرااتو قانون او نور قوانین د متهم لپاره حق په رسمیت پیژندلی ، دا یې هم ویلي دي چې مجریان باید د دې قانون مطابق عمل وکړي. د دې معنی دا ده چې که چیري مجریان د قانون مطابق عمل ونه کړي او د قانون مطابق یې د کړني له تر سره کولو څخه سرکښي کړې او د غیر قانوني عمل مرتکب شوی دی. د جزایي اجرااتو د قانون دریمي مادې تصریح کړې چې ټوله جزایي قضیې د جزایي اجرااتو د قانون تر واک لاندې دي ، مګر دا چې ځانګړي قانون بل ډول پشبیني کړې وي . د دې قانون اتمه ماده حکم کوي چې پولیس مکلف دی چې د دې قانون درج شوي حقونه مظنون، تورن او دهغوی استازي ته ور وښیې. دغې مادې داسي تصریح کړې ده: « پولیس د نیولو په وخت کې.... مکلف دی چې د دې قانون په اوومه ماده کې درج شوي حقونه متهم ، مظنون او یا د هغه قانوني استازي ته توضیح کړي او موضوع په محضر کې لاسلیک او د هغه د ګوتي نښه واخلي ».

په دې اساس، که چیري پولیس په خپل دغه مکلفیت باندې عمل و نه کړي ، د هغه معنی به د قانون نقض او د قانون له حکم څخه سرغړونه وي. د دغه سرغړولو پایلې او اغیزې په دوو راتلونکو بندونو کې تحلیل شوي دي:

### دویم بند:د قانون د مخالفو اجرا آتو ابطال

د قانوني اصولو د تضمین دویمه لیار داده چې پردې ډول اجراآتو باندې قانوني اغیز نه باریږي. یا په بل ډول، د عدلي پولیسو په وسیله د قانوني نقض لږ اثر دا دی چې د هغوی اجراآت د قانون له لوري تر تایید لاندې نه نیول کیږي او پرهغه باندې قانوني اثرنه باریږي.دغه مورد د قانون په مختلفو ځایونو کې یاد شوی دی د بیلګې په ډول د هغه وڅو موردونو ته اشاره کیږی.د دلیلونوپه باب د جزایي اجراآتو قانون ۲۱ ماده چې د قانون د حکم په نظر کې نه نیولو سره تر لاس شوې ده، مصرح ده: (۱)د دې قانون او نورونافذ شویو قوانینو د احکامو د نقض په اثرد ترلاس

شویو مدرکونه او دلیلونه د استناد مورد ه نیول کیږي،له دوسیو څخه خارج مهر کیږي. دغه دلیلونه په جدي ډول له نورو دلیلو څخه گوښه ساتل کیږي.(۲) د قضي د رسیدلو په ټولو مرحلو کې څارنوالي او محکمه مکلف ده،د دې مادې د (۱) فقرې مندرج د لیلونو شتون یا نه شتون څخه ډاډ ترلاس کړي) همدارنگه د دې قانون ۲۲ ماده د اساسي قانون د ۳۰ مادي په ډول کوم اقرا ر چې د تطمیع، اکراه، فریب، د مخدر موادو استعمال، مقناطیسي خوب، تهدید، ناوړه چلند او .... په وسیله ترلاس شوي دي د قانوني اثر څخه خالي او داعتبار وړ نه دي.

همدارنکه د نورو دلیلونو په مورد کې د قانون له لوري شرایط مشخص شوي دي که چیري دغه شرایط رعایت نه شي، پرهغه باندې قانوني مترتب نشي کولای چې د هغو دلیلونوپر بنسټ چې په هغه کې قانوني ضوابط رعایت شوي نه وی خپل حکم مستند جوړ کړي.دغې مادې دا تصریح کړې ده(۱) قناعت د محکمي د مطرح شویو دلیلونو پر بنسټ چې د هغې په وړاندې ترلاس کوي، خپل حکم صادروي او نه شي کولای چې خپل حکم د هغه دلیل چې د محکمې په وړاندې نه وې وړاندې شوی اویا یې د خپل شخصي معلومات پر بنسټ باندې وي.

(۲) محکمه نه شي کولای په هغو اوراقو اوسندونو د خپل حکم صدور چې د دې قانون د احکامو مطابق دهغه په راټولو کې اساسي اجراآت رعایت شوي نه وي استناد وکړي)تر ټولو واضح د نوموړي قانون ۲۸۹ ماده ده. دا ماده مصرح ده: (۱)د اساسي اجراآتو په یوه مواردکې د قانون د احکامو نه رعایت، دهغه د بطلان موجب گرځی. (۲) د محکمي د تشکیل په مورد کې د قانوني احکامو په رعایت کې اساسي اجراآت شامل دي: دهغه حوزه یي اویا موضوعي واک، نیونه ، تلاشی، تحقیق،د اهل خبره په وسیله معاینات او د مدافع وکیل ټاکنه ده.

(۳) د دې مادې د(۲) بند مندرجو موارد وڅخه په یوه کې یې د احکامو د قانون د نه رعایت په صورت کې، محکمه مکلف ده خپل حکم د فیصلې د نقض او د اجراآتو په بطلان صادر کړي، که څه هم په موضوع کې غوښتنه هم نه وي شوې،په دې صورت کې اجرآت باطل او د دې قانون مطابق په تازه ډول اجراآت صورت نیسي) څرنگه چې لیدل کیږي،حتا که په دې مورد کې کوم اعتراض صورت نه وي نیول،د محکمې د تکلیف پربنسټ، قاضي باید د خپل ځان ارزونه وکړي که چیرې د دې قانون مطابق ددې مادې د۲ بند مندرج اجرآتو صورت نه وي نیول، د هغه په بطلان باندې حکم صادر کړي.

همدارنگه په دغه برخه کې د تزویري فرعی دعوا پیژندنه یو میکانیزم دی چې د دعوا د طرفینو لپاره د دغه حقوقو او اصولد ملاتړ لپاره په پام کې نیول شوې ده . د جزایي اجراآتو قانون د ۱۸٦ څخه تر ۱۸۸ مادو پورې تصریح کړې دي که چیري یوه پانه تزویر تشخیص شي، متضرر حق لري چې چې دعوا اقامه کړي. محکمه اعاده شوي پاني او دوسیه و څارنوالي ته استوي که چیر ادعا تزویري تثبیت شي،په هغه زمینه کې د اجراآتو د ابطال په ضمن کې تزویر کونکی شخص و عدلي تعقیب ته ورپیژندل کیږي.

نوله دې کبله ، دریم تضمین چې به دې برخه کې وجود لري، هغه دا دی چې د قانون مخالف اجراآت د قانوني اعتبارڅخه خالي بلل کیږي او که د قانوني حکم خلاف اجراآت شوي وي،پرهغه باندې قانوني حکم نه باریږي. او د دعوا طرفین کولای شي د خپلی دفاع لپاره د دې ټکي څخه کټه واخلي او د قانون خلاف اجراآت دفع کړي تر څو دهغو په باب د مطرح شویو اصول او حقوق اجرا شي.

### دریم بند:د عدلي مرجعو عدلي تعقیب

د تضمین بله لاره چې په قانون کې یاده شوې ده،د عدلي مرجعو دعدلي تعقیب احتمال شته. که چیري عدلي مرجع له هغه جملې څخه پولیس په خپل قانون تکلیف تر سره نه کړي، لیري نه ده چې خپله به د قضایی نظام او عدالت په وړاندې له قانون څخه دهغو د لوړو اجراآتو ځواب ویونکی به وي، د بیلگي په دول که چیري د قضایي ضبط مامورپه خپلو مسوولیتونه باندې عمل ونه کړي د عدلی تعقیب احتمال شته.د جزایي اجراآتو قانون ۵۲ ماده داهل خبره د عدلي تعقیب به مورد کې دهغه قانون ۹۱ ماد هم د ملي امنیت موظف او د پولیسو د سرغړونو په مورد کې د دې مسلې په اړوند ده همدارنگه که چیری د قانون د نقض احتمال جدي وی، لیري نه

ده عدلي چاروکي دعامه خدمتونود موظفینو په توګه د پنځم فصل د حکم په دایره کې (د ۲۷۵ تر ۲۷۹ موادو) اود اووم فصل(د ۲۸۲ تر ۲۸۹ موادو)د جز د قانون لاندې راځي.د بیلکه په ډول که چیرې پولیس یا څارنوال د اقرار اخیستلو لپاره په شکنجې لاس پورې کړی وي، لیرى نه ده چې پر دغو افرادو د تعذیب او شکنجې په باب په قانون کې د څرګند شویو مجازاتو لاندې نیول کیږي.

## د پولیسو د دندو په اجرا کې د ځواب ویلو څخه د ډاډه کېدو میکانیزم

د پولیسو د ندو په اجرا کې د ځواب ویلو څخه د ډاډه کېدو میکانیزم رامنځته کول، د اصولو خلاف چلندونه پېژندل غواړي، د مجازاتو او مکافاتو ټاکل او د پولیسو له اقداماتو وروسته د ځواب ویلو او مسولیت منلو څخه ډاډه کېدل څکه مهم دي چې پولیس د لارښوونو پر بنسټ عمل کوي؛ ځواب ویل[14] د مسولیت منلو[15] برخه ده چې د لارښوونې، کنټرول او جدي تعقیب په واسطه، د قوانینو، پالیسي ګانو او بشري حقونو څخه د پولیسو په لیکو کې څارنه کیږي. دا مسله له اقدام وړاندې د ځواب وینې په معنا پېژندل شوې ده او د عامو خلکو یا د هغوی د استازو د اړتیاوو پر بنسټ د پولیسو عمل، مفکوره رانغاړي.

### اغېزمنه ځواب وینه لاندې موارد رانغاړي:

- د دې لارښود چې پولیس څه وکړي او له څه شي ډډه وکړي (له عملي اقدام واندې/دنده).
- د پولیسو د عمل څارنه او د ځواب وینې د اړتیا پوهه. (د عملي اقدام پر مهال/دنده)
- د پولیسو د عمل اصلاح، د حل لاره او د نیمګړتیا له منځه وړل (د دندې له ترسره کولو وروسته)
- فیډبک ورکول او د زده کړیو درسونو په اړه د عملي فرصتونو رامنځته کول (د دندې له ترسره کولو وروسته / عمل)

لاندې چارټ د پولیسو په لیکو کې د اغېزمنې ځواب وینې د بېلابېلو اړخونو یوه ځغلنده کتنه.

حصول اطمینان از مؤثریت و شفایت در عملکرد پولیس




د پولیسو په لیکو کې د ځواب وینې موخه، د لوري په ټاکلو کې د مسولیت منل او د هغوی د کارونو پر لور د پولیسو د افسرانو تیارول، دي. دا خبره دا پیغام لري چې ځواب وینه یواځې د افسرانو په فردي عمل ته نه، بلکې

14 Accountability
15 Responsibility

د مدیرانو، څارونوکو او په عمومي ډول ټول بنسټ ته متوجه ده. بد چلند کله کله په یو فرد پورې محدود وي. د لوړو پوړیو مسولین باید د خپلو لاس لاندې کسانو له چنده خبر وي او مسولیت واخلي. همدارنګه ټول مقامات د خپلو وظیفوي سلسله مراتبو پر بنسټ ځواب ویونکي دي. همدارنګه ځواب وینه په دې معنا ده چې پولیس په نظم، امنیت او د جرم په کنټرول کې په لړ لګښت او په ټول صداقت سره د یو کل په ډول د ټولنې پروړاندې په لویه کچه ځواب ویونکي وي.[16]

## ننګونې او فرصتونه

د ثبات کچه، د یوې ټولنې آرامي او لوړوالی د قاانون په موجودیت، اجرا او حاکمیت پورې تړلی. قانون ته د خلکو او انساني ډلو میلان او هغې ته ژمنتیا، د ټولنې د پرمختګ د مسر ټاکونکي دي. د افغانستان خلک چې کلونه بې نظمي او بې قانوني یې تر شا پریښې ده، اوس د یوې قانونمندې او پر ښاروندې او حقوق بشري ارزښتونو ولاړې ټولنې ته سترګې په لاره دي. داسې عادلانه او دموکراتیکه ټولنه چې په هغې کې د خلکو حقوقو او آزادیو ته احترام وشي.

په دې منځ کې د دې تمه کیږي چې د پولیسو ارګانونه چې له یوې خوا یې د قانون پر مسند ډډه وهلې او له بل پلوه د قانون د پلي کوونکي، د ټولنې څراغ، د خلکو خدمتګار، او د انساني کرامت، ځان، مال او ناموس ساتونکي په څېر نومونو باندې یادیږي، خامخا باید له بل هر هیوادوال څخه زیات د قانون پابند وي او د قانون د ساتنې او حاکمیت لپاره هڅه وکړي. پولیس باید کاملاً دې مسلې سره اشنا وي چې قندن هغه ته قدرت ورکړی چې وسله په لاس کې واخلي او په یو خاص یونیفورم کې، په ټولنه کې له نورو خلکو سره متفاوت معلوم شي، په مدبرانه او بې طرفه ډول او له هر ډول تبعیض پرته د قانون د حاکمیت په اعمال کې هڅه وکړي او د برترۍ د بېلګې او نقش په څېر عمل وکړي.

د افغانستان خلک د خپل ځان او خپلو اولادونو لپاره د ښې راتلونکي په انتظار دي. دا ارمان هغه وخت پره کېدای شي چې هر فرد، او په ځانګړي ډول د هیواد ملي پولیس مسولیت منونکي وي او د خپلو دندو په اجرا کې صادقانه او متعهدانه هڅه وکړي.

د ټولنې شته واقعیتونو ته په کتو او هغه څه مو چې ولیکل، د خلکو لرلید ته د رسېدو لپاره د لاندې اقداماتو د ترسره کولو اړتیا ده او د عادلانه حکومت د ټینګښت لپاره چې پر بشري حقونو مبتني وي لازمه ده چې دغه لاندې اقدامات ترسره شي:

۱- د بیروني ننګونو سره د مقابلې لپاره له دننه څخه د ملي پولیسو د ځواکونو پیاوړي کول. کله چې پولیس په دننه کې له ستونزو سره مخ وي، د ټولنیزو ستونزو هوارولو لپاره د بریالۍ مبارزې هیله به پوره نه شي. د دې لپاره چې پولیس د خپلو قانوني او حقوق بشري مکلفیتونو په اجرا کې ښه عمل وکړي، باید یوه ملي ستراتیژیکه برنامه د مدیرت د رهبرۍ او د اوږدمهالو، منځ مهالو او لنډ مهالو فعالیتونو د تنظیم لپاره تدوین کړي او اجرا ته یې وسپاري. د دا ډ،ل ستراتیژۍ په تدوین کې باید له همغه لومړي سره د تدوین پروسه او نتیجه او همدارنګه د تطبیق د پروسې څرنګوالی وسنجول شي. د پلان تدوین او تطبیق باید کاشناسانه، د بشري حقونو د بنسټیزو ارزښتنو په بنا او ګډ وي، څو ټولې ډلې او ټولنیز قشرونه ځان په پوروسه کې دخیل وګڼي او په دې برخه کې د مالکیت احساس وکړي.

۲- د ملي پولیسو د جوړښتي اصلاحاتو بهیر تقویت، چټکتیا او تداوم پیدا کړي. د دې لپاره باید د امنیتي جوړښتونو جنسیتي اصلاحات، د بېلابېلو هویتي ډول ګډون او همدارنګه په استخدام، ټاکلو، پر دنده ګمارلو، مکافات او مجازات کې شفافیت باید رعایت شي. د جوړښتي اصلاحاتو په پروسه کې تمرکز او پانګه اچونه پر

16 UNITED NATIONS, New York(2011), Handbook on Police Pccountability, Oversight and Integrity, CRIMINAL JUSTICE HANDBOOK SERIES, UNITED NATIONS OFFICE ON DRUGS AND CRIME, Vienna, P. 10-11.

پولیسو کیږي او د ملي پولیسو له قانوني چوکاټ څخه د باندې پر جوړښتونو له پانګونې څخه باید ډډه وشي. د جوړښتي اصلاحاتو پروسته ته لازم تعهد او د دې تدابیرو نیول او د پولیسو د قانونمندو جوړښتونو پیاوړتیا له شک پرته د خلکو د باور په خپلولو، د خیالي ځواکونواو د پولیسو له خوا د قانون ماتونې د تور د له منځه تللو باعث کیږي.

٣- د کورنیو چارو چارواکي باید په پوره توګه فعال، پیاوړي و اوسي او دهغوی کړني باید د قانون په تنفیذ او ساتنه کې لکه هنداره شفافې وي. د قانون او د افغانستان د بشري حقونو د ژمنو په اجراکولو د لوړ پوړو چارواکو کړني او د هغوی قاطعیت، تبعیض ، بې قانوني ، د پیسو او بډو اخیستل ، بې تفاوتي ، اداري فساد او له مجازاتو څخه د مجرمینو د معافیت مخه نیسي.

۴- د قانون په وړاندې د ټولو هیوادوالو په یو شان ګڼلو او اجراکولو کې د پولیس پوځونو پیاوړتیا او د ټولو هڅو په کار وړل. د اساسي قانون، نافذه قوانینو او بشري حقونو پر بنسټ ټوله هیوادوال له هر ډول تبعیض پرته له یو بل سره برابر دي. هیڅوک له قانون څخه پورته نه دی. د قانون په اجراکولو او رعایت کې باید جدی عمل وکړي او د هر مقام او هر شخص له لوري د قانون د نقض په صورت کې د مظنونینو او متهمینو په نیولو کې له تردید پرته په وخت او زمان اقدام وکړي. ملي پولیس په پوره روښتیا او پر ټولو د قانون د واکمنۍ یو شان پلي کول، باید د خلکو دغه باور چې : « قانون یوازې پر بې وزلو تطبیقیږي » بد لون ورکړل شي او د هغه پر ځای دغه هیله چې ملي پولیس د خلکو د عامه نظم، امنیت او د انساني کرامت د ساتلو مسوول دي، د خلکو په زړنو کې ځای ونیسي.

۵- پولیس باید د قانون مطابق مظنونین ونیسي او په ۲۴ ساعتونو کې باید و اړونده څارنوالۍ ته خبر ور کړي او د ۷۲ ساعتونو په جریان کې باید سندونه، شواهد او لازم مدارک یې را غونډ او څارنوالي و سپاري.

٦- ملي پولیس او د ادارو او افرادو د امنیت د تامین موظف پولیس، هیڅ کله نباید له خپل خاص موقعیت او موقف څخه په ګټې اخیستنې سره له مرارجعینو او په عمومي توګه د ښار په کڅه له ټولو خلکو سره زشت چلند وکړي. خلک پولیسو ته د امن د ډال او سپر په توګه ګوري او له پولیسو څخه د مرستې رسولو هیله لري.

٧- په خپله ګټه د عامه امکاناتو او قدرت څخه ناوړه ګټه پورته کول، قضیو ته په رسیدنه کې لټې کول، په دنده کې ځنډ او تعلل راوستل، له تورنانو او شکمنو سره ناوړه چلند کول، د خلکو آزار او اذیت، په ځانګړې ډول د ښځو، ماشومانو، معلولیت لرونکو وګړو ، د پولیسو په پوځونو کې د شاملو ښځو او دې ورته نور موارد، د قانون مخالف او د پولیس له شان او مقام څخه لیري دي.

**پایلې :**

افغانستان د بشري حقونو د ژمنو په اجراکولو مکلف دی . په دې موخه ، دولت دنده لري چې ټوله لازم ملاتړیز، ښوونیز، پروګرامونه او تدبیرونه د خپلو بشري حقونو د ژمنو د اجراکولو په موخه په کار واچوي. په دې برخه کې پولیس له بشري حقونو څخه د څارني، رعایت او ساتني په موخه مهم رول لوبوي. د افغانستان پولیس او همدارنګه د نورو هیوادونو پولیس ، په همهغه ډول چې د قانون او عامه نظم ساتونکي دي او د ځانګړیو واکونو در لودونکي دي. د ځانګړو مکلفیتونو څخه هم برخمن دي. په لمړي قدم کې پولیس باید په خپله بشري حقونو ته درناوی او رعایت کړي . دویم داچې په ټولنه کې د بشري حقونو له نقض څخه مخنیوي وکړي . دریم دا چې د ټولنیزو ډلو او افرادو له لوري د بشري حقونو پر رعایت باندې څارنه وکړي.

پولیس د خلکو د اساسي آزادیو او حقونو حامي دی او باید له هغو څخه په فعاله توګه ساتنه وشي. پر پولیسو با ندې ده چې د خلکو د بشري حقونو له وضعیت څخه مراقبت وکړي او د بشري حقونو د نقض له مواردو لکه نسل وژنه، اعدام او په خپلسري نیوني، سرې تېښتوني، اختطاف، قاچاق، شکنجه او تبعیضونو څخه مخنیوی وکړي. له بشري حقونو څخه رعایت، څارنه او ملاتړ او د قانوني ملکلفیتونو اجرا کول، د پولیسو په نسبت د خلکو د باور جلبولو

سبب کیږي او د هیواد د ښتینو بچیانو او خلکو په زړونو کې د هغوی محبوبیت زیاتوالی مومي. په همدې ترتیب، د پولیسو د بشري حقونو د ژمنو اجراکول ، د بشري حقونو د ناقض کوونکو قانوني تعقیبول او د هغوی د کړنو د میدان او ساحې محمدودول، د عدالت د تحقق سبب کیږي او د پولیسو د ملاتړ په برخه کې د رسنیو، مدني نهادونو او نړیوالي ټولنې پاملرنه جلبوي. بالاخره له ملي او نړیوالو قوانینو سره په مطابقت د جرمونو له پیښېدو څخه په مخنیوي کې ګټور واقع شوي او د سولې په راوستلو، عدالت او آزادۍ کې بیساری کومک کوي.

په افغانستان کې د بشري حقونو د ټولنې د تحقق ، سولې، عدالت او د قانون د واکمنۍ په هیله .

## سرچینې او ماخذونه: ا

### الف: فارسي سرچینې:

۱- د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ م کال تصویب، خپرونکی ، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون.

۲- علامه، غلام حیدر، د افغانستان د جزایي محاکماتو اصول، چ ۱ ، کابل: د ابن سینا د پوهنتون خپروني، ۱۳۹۴ .

۳- د ۱۳۹۲ لمریز کال د جزایي اجراتو قانون، رسمي جریده ، (۱۱۳۲).

۴- اساسي قانون، ۱۳۸۲ کال، د رسمي جریدې ګڼه (۸۱۸).

۵- د پولیسو قانون، ۱۳۸۸ کال، رسمي جیریده (۹۹۴).

٦- د جزا قانون، ۱۳۵۵ کال، د رسمي جریدې ګڼه، (۳۴۷).

۷- د شکنجې د منع کولو او د نورو غیر انساني یا تحقیر کوونکو چلندونو او ظالمانه مجازاتو کنوانسیون، ۱۹۸۴ م کال.

۸- د سیاسي او مدني حقونو کنوانسیون، خپرونکی: د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون.

۹- د کورنیو چارو د وزارت ویبپاڼه.

### انګلیسي سرچینې:

1- FRA(2013), **Training Manual on Fundamental Rights-based policing, A manual for Police Training**, European Union Agency for Fundamental Rights, Publications Office of the European Union.

2- Marx, Gary, (2001), **"Police and Democracy"**, in M. Amir and S.Einstein (eds.), Policing, Security and Democracy, Vol 2.

3- Neild, Rachel, (1) **"Democtatic Police reforms in War – torn Societies"**, in Conflict, Security and Development.

4- OFFICE OF THE HIGH COMMISSIONER FOR HUMAN RIGHTS, UNITED NATIONS STAFF COLLEGE PROJECT, HUMAN RIGHTS: A Basic Handbook for UN Staff.

5- OSCE/ODIHR(2012), **Guidelines on human rights education for law enforcement officials**, Published by the OSCE.

6- UNITED NATIONS, New York and Geneva(2002), **PROFESSIONAL TRAINING SERIES No. 5/Add.2, Human Rights and Law Enforcement,** A Trainer's Guide on Human Rights for the Police.

7- UNITED NATIONS, New York(2011), **Handbook on Police Accountability, Oversight and Integrity, CRIMINAL JUSTICE HANDBOOK SERIES**, UNITED NATIONS OFFICE ON DRUGS AND CRIME, Vienna.